# د عارف کامل حضرت سید میر انور شاه اخلاقي شاعري (تحقیقي او تنقیدي جاج)

# The Perfect cognitive Hazrat Syed mir Awnwar Shah's Ethical Poetry (Research and critical review)

Dr. Nasrullah Khan Majnoon*
Mr. Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai**

**ABSTRACT**

The ethics is the subject topic of the poetry of the Pashto Classic. The subject is also have the requirements of the society especially in the current situation we need social and ethical reforms for facing the changing situation. The poets of Pashto have played their vital role in the subject topic for the sake of humanity. Hazrat Syed Mir Anwar Shah has also make the ethics his main topic of his poetry. Mir Anwar Shah is the poet of the same era and age of the Sufi Rahman Baba and his poetry have also the colours of humanity and Ethics. This paper is going to discuss the ethical aspect of the poetry of Mir Anwar Shah.

**Key Words:** Ethics, Ethical, Classic, Society, Reforms, Vital, same era.

دا یو منلې شوې حقیقت دے چې په پښتو شعر و ادب کښې بې شماره شاعرانو خپله برخه اخستې ده او پښتو شعر وادب ئې د مناروبام ته خېژولے دے. په دغه شاعرانو کښې داسې مصلحان هم تېر شوي دي چې خپل ټول ژوند ئې د انساني خدمت د پاره وقف کړے ؤ. هم په دغه مصلحانو کښې یو مصلح با عمله صوفي بزرګ عارف کامل حضرت سید میر انور شاه هم شتون لري. د پېدائش په حقله ئې افضل رضا لیکي چې: "پیر سید میر انور شاه د ۱۱۴۷ھ خواؤ شا د تیراه د مني خېلو درې په کلایه کښې پیدا شوے ؤ." [۱]

* Assistant Professor ,Rahman Baba Chair Department of Pashto ICUP
** Lecturer, Rahman Baba Chair Department of Pashto ICUP

همېش خليل ئې په ورکه خزانه دوېم ټوک مخ ۲۰۷ کښې داسې ذکر کوي:
"سيد مير انور شاه د مير عاقل په پنځم پشت کښې تقريباً د کال ۱۱۴۷ھ لګ بګ په کلايه کښې پېدا شوے ؤ. دے چونکه يو عالم، پرهېزګار او د سلوک نه واقف سړے ؤ هم دغه وجه وه چې د ګدي نشينۍ نه پس په ګڼ تعداد کښې خلق د دوي د مريدۍ په حلقه کښې شامل شُو. خپله علاقه کښې په مياں صېب مشهور دے."
وئيلے شي چې انور شاه سل کلن ژوند کړے ؤ د مرګ نېټه ۱۲۱۴ھ معلومه ده نو په دغه حساب بابا د خيبر پښتونخوا په جنت نظير سيمه وادي تيراه اورکزۍ ايجنسۍ په کلي کلايه کښې په کال ۱۱۱۳هجرۍ بمطابق ۱۷۰۱ء کښې پېدا شوے ؤ انور شاه يو صوفي بزرګ شاعر ؤ چې ټوله شاعري ئې د انسانيت او اسلامي تعليماتو نه ډکه ده. د هغهٔ په شاعرۍ کښې د ژوند سره اړه لرونکي ټول موضوعات شامل دي يعني انور شاه ګڼ اړخېزه شاعر ؤ چې دلته ئې د اخلاقي شاعرۍ ذکر کولے شي. انورشاه بابا په حقيقت کښې عاشقِ رسول او شاعرانسانيت ؤ چې د مذهب ژوره مطالعه ئې لرله. انور شاه د قرآن وحديث منلے شوے فاضل ؤ، نو چې څوک د مذهب سره دومره علاقه لري هغهٔ به ارو مرو په ښو اخلاقو اراسته وي. د اسلام د اخلاقي تعليماتو تر مخه د الله ذات يو ګڼل، د الله د مخلوق سره بې کچه مينه کول، د دنيا په مقابله کښې آخرت ته ترجيح ورکول، د حقوق الله او حقوق العباد تميز کول او داسې نورې ديني فرېضې ادا کول اخلاق دي. د ټول انسانيت د پاره حضرت محمد د ښو اخلاقو يوه نادره نمونه ده، ځکه چې الله پاک په قرآن کريم کښې د رسول اکرم په حقله په سورهٔ القلم کښې فرمائي ترجمه ئې دا ده. چې اے پېغمبره تهٔ د اخلاقو په عظيم معيار فائز ئې. د مشرق اکثرو شاعرانو د خپل کلام ابتدا د الله پاک د پاک نوم نه کړې ده. هر مسلمان په عقيدهٔ توحيد يعنې د الله په وحدانيت پوخ ايمان لري. د ايمان په حقله ډاکټر اسلام ګوهر ليکي:

"اللہ کے دین میں داخلہ لینے کے لئے ایمان لانا بہت ضروری ہے۔ ایمان کے بغیر کوئی شخص اُس پورے کارگاہِ حیات کے فلسفہ حیات کے خاک کو پا نہیں سکتا۔ جب تک ایمان کی دولت سے بہرہ ور نہیں ہو جاتا۔ ایمان کیا ہے اور کیوں ضروری ہے؟ یقین کو دین کی اصطلاح میں ایمان کہتے ہیں۔۔۔۔ اسلام ایک مکمل ضابطہ حیات (perfect code of life) ہے۔ اس مکمل ضابطہ حیات پر کامیاب انسان کی حیثیت سے زندگی گزارنے کیلئے ضروری ہے کہ اسکے حاملین، متعلقین و متوسلین اللہ اور رسول پر غیر متزلزل یقین رکھے۔ ایمان کے اصل معنی ہیں دل سے ماننا یا تصدیق کرنا۔"[2]

انور شاه مومن مسلمان ؤ او په توحید ئې پخه عقیده لرله. څنګه چې په سورهٔ اخلاص کښې الله تعالیٰ خپل صفات بیانوي دغه صفات انور شاه خپل اولس ته په مورنۍ ژبه پښتو کښې ډېر په ښکلي رنګ پېش کړي دي. هم په دغه تناظر کښې انور شاه بابا د الله پاک په شان کښې لیکي او د خپل کلام ابتدا د موجِ عرفان عنوان لاندې په دې ټکو کوي چې څه شعرونه ترې نقل کولے شي چې:

الله ربــــه بـــې همتـــا ــــــ لــــه قدیمـــــه ئـــې تنهـــا

لـــم یلِـــد و لـــم یُـــو لـــد ئـــې ــــــ لـــه خپـــل ذات نـــه ئـــې پیـــدا

بـــې شـــریکه تـــه احـــد ئـــې ــــــ مـــدد نـــهٔ غـــواړې لـــه چـــا

ســـزاوار ئـــې پـــه خـــدا ے ــــــ هـــم بـــې نیـــاز ئـــې کبریـــا

هـــیڅ نقـــص نـــهٔ لـــري پـــه ذات کښـــې ــــــ لـــه عیبونـــو مبـــرا[۳]

څنګه چې الله پاک په قرأن پاک کښې ځائې په ځائې خپل صفات په ډاګه کړي دي لکه چې الله پاک په قرأن مجید کښې فرمائي:

(ترجمه) مبارک دے هغه ذات چې د هغه په لاس کښې د ټول جهان بادشاهي ده او هغهٔ په هر څیز قدرت لري.(سورهٔ ملک آیت ۱)

دغه صفات انور شاه داسې بیانوي:

خدا ے کریم رحیم بادشاه دے. دے خالق د کُل اشیاء دے

هم رازق دے و هر چا ته. حیٔ قیوم و توانا دے

له هیچا ئې. پروا نهٔ شي. دے غني و مستغنٰی دے

مدد نهٔ غواړي له چا نه. دے اول آخر پیدا دے

په خپل ذات کښې بې شریکه. چُون چرا نه مُبرّا دے[۴]

د توحید نه پس د اسلام دوېمه عقیده د رسالت ده. د رسالت ماده "ر س ل" چې معني ئې پېغام رسولو والا. په شریعت اسلامي کښې د الله پېغام بندیانو ته رسول رسالت وي. الله په قرأن کښې په ټولو نبیانو ایمان راوړل فرض کړي دي چې په ارکان اسلام کښې یو ضروري رکن دے. څوک چې د الله پاک سره مینه لري هغهٔ به ضرور د حضرت محمد سره مینه او عقیدت لري. حضرت محمد د الله پاک اخري نبي دے. د نبوت سلسله په هغهٔ باندې ختمه شوې ده. الله پاک په قرأن کښې فرمائي:

(ترجمه) محمد ستاسو په سړو کښې د هیچا پلار نهٔ دے. هغهٔ د الله رسول او خاتم النبیین دے.(سورۂ الاحزاب آیت ۴۰)

انورشاه بابا هم دغه عقیده لري او فرمائي:

نُور ظهور اول اظهر ئې. آخر ختمې پېغمبر ئې
هر نبي د سر افسر ئې. تهٔ حضرت رسول الله ئې محمد
سر دفتر د مرسلین ئې هم رهبر د اولین ئې
مقتدا د آخرین ئې تهٔ حضرت رسول الله ئې محمد [۵]

بل ځائې کښې وائي:

قدرت صُنع لري ربّ حکمتونه ئې عجب
محمد ظهور ئې اوکړو نُور و سِر ئې ؤ مطلب
خپل حبیب ئې مصطفٰی کړو. لَه مرسلو مقرب
سر دفتر د انبیاؤ بل لَه دهٔ نهٔ ؤ اقرب [۶]

او چې څوک د خاتم النبیین پېغبرخدا سره مینه او عقیدت لري نو ارو مرو به د اهل بېتو سره مینه لري. انور شاه بابا وائي:

که په علم څهٔ خبر ئې. علامه صاحب هنر ئې
په تقویٰ اراسته اوسه. هم په دا سبب بهتر ئې
پیروي د اهل بېت کړه. لائق څښونے د کوثر ئې
شفاعت به دې روزي شي. اُمتي د پېغمبر ئې [۷]

د کربله سانحه د دنیا د ټولو سانحو نه دردناکه سانحه وه چې هر انسان ئې دړدولے دے او لا دغه اثر به تر قیامته پورې جاري وي. د انور شاه خو نسبتي سلسله د اهل بېتو سره وه د هغهٔ د کلام د نیمې نه زیاته برخه د اهل بېتو سره د مینې او عقیدت په حواله بنهٔ سنبال ده

لکه چې خپل دړد د ټکو په واسطه د اولس په ژبه اولس ته وړاندې کوي:

آه افسوس دے که حاضر خیرالبشر وے
په امام حسینؓ چې پېښې د غم سفر وے
په آغوش کښې ئې نیولے لکه زړۀ وے
په درون کښې ئې ساتلے خپل ځیګر وے
چې حسینؓ د العطش نارې کولے
هغه دم حاضر ساقي حوض کوثر وے
ذوالفقار ئې د دښمنو په وینو رنګ وے
قتل کړے ئې د شام کوفې لشکر وے [۸]

د فطرت دا قانون دے چې حالات به بدلیږي، د عمل او ردعمل سلسله به جاري وي – کومو قومونو چې د امن او صلحې لار اختیار کړې ده، هغوي د منارو بام ته رسیدلي دي- چا چې د زور زیاتي لار اختیار کړې ده نو د هغوي زور زمانې مات کړے دے- چرته چې اخلاقي معیار مخ په لاندې راغلے دے نو هلته د تاریخ سنګین او خونړي جنګونه شوي دي او هر څۀ ئې په خاورو کښې خړوب کړي دي-

نو الله تعالی په داسې وخت داسې مصلحان او رهبران هم راپیدا کړي دي چې د خپلو افکارو، مشاهدو او تجربو په رڼا کښې ئې د معاشرې غورزیدلي اولس ته د دغه ګړنګونو نه د بچ کېدلو چل ښودلے دے او په دنیا کښې ئې انقلابونه راوستي دي- انور شاه بابا هم په دغه رهبرانو کښې یو باعمله، حقیقي او منلے صوفي ؤ او صوفیان:

"ایسے نفوس مکارم اخلاق کے پیکر ہوتے ہیں ان کے صبر اور نفس پر جبر کی مثالیں قائم ہوئیں ہیں تزکیہ نفس اور تعمیر ظاہر و باطن ان کا مقصد ہوتا ہے دلوں کے ویرانوں کو صاف شفاف کرنا پھر اسے رحمٰن کا گھر بنانا ان کی حیات جاوداں کا مقصود ہوتا ہے حقیقي خالق و معبود ہی ظاہر و باطن میں ان کا مسجود ہوتا ہے خدا کے بندوں سے پیار ان کی خدمت میں عظمت انکار روحاني درس ہوتا ہے جی ہاں! ایسے لوگ ہی حقیقي صوفی کہلاتے ہیں۔" [9]

څنګه چې الله پاک د دنیا ژوند ته عارضي او د لوبو عبث ژوند وئیلے لکه چې فرمائي:
(ترجمه) او دا د دنیا ژوند سېوا د عبثو او لوبو نه څۀ دے او اصلي ژوند د آخرت دے، کاش دوي ته د دې حقیقت علم وے (سورۀ العنکبوت آیت ۶۴)

دغه رنګ انورشاه خپل اولس ته د دنیا او د فاني ژوند حقیقت په ډاګه کړے دے:

د دنیا احول به وائم پند کړه واوره دا وینا
رنګارنګ بو قلمون دي غم ښادي کاندي پیدا
دو راهي ده فکر اوکړه خپل ځان ژغوره له بلا
خلقي ئي ډوبې کړي په فریب فریب دغا [۱۰]

د دې فاني دنیا ژوند که هر څو ډېر خوږ دے ولې دا هم یو کوټلے حقیقت دے چې دا خوږ ژوند ختمېدو والا دے په دې پسې زړۀ تړل د ناپوهه بې علمه خلقو کار دے. د انسان مثال د یو مسافر دے. انور شاه بابا درس ورکوي چې:

چې په رنګ تر زیړو ګُلو ښائسته وو
اوس د تورو خاورو زنګ شُو هغه ښکُلي
د دیدن سودا ئي اوکړه ځیني لاړو
سوداګر د بل وطنه وو راغلي
که هر څو ئي تفحص په هر طرف کړم
څوک خبر نۀ دي ګړنګ نه پرېوتلي [۱۱]

انور شاه بابا د خپل شعر په خوږه پسته او روانه ژبه د ټول انسانیت د پاره تر مرګه د امن او محبت تبلیغ خور کړے دے- د شاعرانو فکر اجتماعي وي هغوي د ټول اولس د پاره فکر مند وي د شاعرانو مسلک یو وي ـ البته په ژبه، بیان او اسلوب کښې د یو بل نه جدا وي ځکه چې د هر ملک اوسېدونکي خپله خپله ژبه وائي او خپل خپل احساسات په خپله ژبه کښې اولس ته وړاندې کوي- انور شاه تل پاتې شاعري کړې ده نن سبا چې زمونږ په معاشره کښې کوم حالات دي او کومه فحاشي ګډه ده، د نر او ښځې تر مېنځه فرق ختم شوے دے. په سنت نبوي پسې ملنډې کېږي. نر، ښځې او هیجړاګان یو ځائې په محفلونو کښې ګډاګانې کوي، د یوې ټکې د پاره ئي خپله حیا په داؤ لګولي وي. که څوک نور هیڅ هم نۀ شي کولے نو پکار ده چې د داسې خلقو او کارونو نه نفرت او مزمت اوشي او دا د ایمان د ټولو نه اخري درجه ده. حالانکې د پردې په حقله الله پاک فرمائي:

(ترجمه) اووایه اے پېغمبره مؤمنانو ښځو ته چې خپل نظرونه ښکته ساتي او د خپل عورت حفاظت دې کوي او خپل ډول سنګار دې نۀ ظاهروي سېوا د هغه نه کوم چې د هغو په اختیار کښې نۀ وي او په خپلو سینو یا ګرېوانونو دې څادر غوړوي.(سورۀ النور آیت ۳۱)

هم دغه د معاشرې حالات انور شاه بابا بیانوي چې:

دا کارونه د دنیا دي پـه هر لور شور وغوٌغا
ځیني نر کاندي ځان ښځه لاس پښې سرې کا په حنا
د یوې لقمې د پاره و خپل ځان کا بې حیا
مزمت ئې کړے بویه څو دې زړۀ کښې تمنا [۱۲]

شاعر فطرتي انسان دوست وي- حسن، خیر او صداقت د شاعر منصب وي او په دنیا کښې د محبت خورولو د پاره د شعر په خوږه ژبه خپل فرض ادا کوي ځکه چې محبت یو داسې شے دے چې په انسانانو کښې د ورورولۍ رشتې پیدا کوي او د نیکو خیالاتو محرکات پیدا کوي- د انور شاه شاعري هم په ذکر شوو خصوصیاتو پوره ده او هاغه ټولې ښېګړې ئې په شاعرۍ کښې موجودې دي کومې چې د یو ښۀ شاعر د پاره پکار وي- لکه په دنیاوي ژوند اخروي ژوند ته فوقیت ورکوي او ټول انسانیت ته غږ کوي:

که طلب د اخرت کړې د دنیا پریږده ناموس
د خپل ځان ساتنه بویه منافق د دین جاسوس
ناقبول طاعت به څۀ کړې لکه وي انبار د بُوس
که قبول شي پرې نازیږه که خروار وي که فلُوس[۱۳]

انور شاه بابا په داسې وخت کښې پیدا شوے ؤ چې ژوند د هر چا په اوږو بار جوړ شوے ؤ. عام اولس څۀ چې د بادشاهانو تر مینځه هم د تخت ګټنې رسه کشي روانه وه او په مینځ کښې ئې غریب اولس دل کیدلو.انور شاه بابا تاریک الدنیا صوفي نۀ ؤ بلکې د هغۀ سترګور نظر په خپل چاپیر چل هم ؤ لکه چې د خپل وخت حالات بیانوي:

دغه شان خلق پیدا په دا زمان شُو
چې ئې فخر په بدي له ښو پېغور دے
مقبلان له دنیا لاړو و عقبیٰ ته
دور دور د ناقصو د غلو زور دے
په خلاف د بزرګیه دعویٰ کاندي
د دنیا په مطلب پړمخې نسکور دے

دا تاثیر د زماني اثر ظاهر شو

میر انوره شور فتور په هره لور دے [۱۴]

نو په داسې وخت کښې د یو مصلح کار دا وي چې خپل ژوند د پرېوتي اولس او معاشرې د پاره وقف کړي. انور شاه بابا هم دغه د مصلحت لاره ټینګه نیولې ده او خپل بې لارې شوي اولس ته ئې سمه لاره ښودلې ده. د خپل کلام په ذریعه ئې د اولس اصلاح او تربیت په غرض خپله وېنا، خپل تعلیمات او خپل افکار د شعر په خوږه ژبه کښې موزون کړي دي چې اولس ئې اولولي، عبرت ترې واخلي او په حقیقت او مقصد ئې ځان پوهه کړي- بابا منلے شوے عملي عالم او صوفي بزرګ ؤ په مثالونو ئې خپل اولس ته دا حقیقت په ډاګه کړے دے. چې دا دنیا مرداره ده. نجاشي، ابرهه، شداد او د قارون خزانې څهٔ شوې؟ که په دنیا کښې وفا وے، یا مال دولت یا طاقت څوک د مرګه بچ کولے شوے نو نن به هم دغه بې دینه کافران ژوندي وے. بابا څهٔ ښکلے وعظ و نصیحت کوي:

احتیاط ورځنې ښهٔ دے          په جیفه مه شه شېدا
نجاشي ابرهه څهٔ شُو          ابابیلو کړو فنا
د قارون ګنجونه ډوب شُو          شه ئې ځائې تحت الثرا
عاد شداد شدید فنا شُو          په قوت کښې وو توانا
غافلان پرې هوسېږي          د عاقل ترې تبرّا [۱۵]

انور شاه چې په کوم وخت کښې ژوند کولو، هاغه وخت معاشره مخ په لاندې راروانه وه- د هغهٔ د تعلیماتو اهمیت او ضرورت چې څومره په هاغه وخت کښې ؤ دومره اوس هم دے او د دې نه پس به هم دغسې وي ځکه چې هغهٔ د ټول انسانیت د پاره شاعري کړې ده- انور شاه چې نن په اولس کښې څومره اوچته درجه لري نو هم د دې اعلیٰ او ارفع تعلیماتو په وجه چې انسان پرې د خپل ژوند او د یوې صفا سوتره معاشرې تشکیل کولے شي- د بابا وېنا د یوې خاص علاقې، قوم یا ځائې او ملک د پاره مخصوص نهٔ ده بلکې دا د ټولې دنیا د انسانیت د پاره یو آفاقي او عالمګیر حېثیت لري. نن سبا چې په معاشره کښې او په خصوصي توګه په پښتنو کښې د خور، لور حق نهٔ ورکړے کېږي او نهٔ د ګاونډي سره څوک ښهٔ تعلق لرې بلکې یو ګاونډي د بل دُشمن جوړ شوے وي، حالانکې په اسلام کښې د هر چا خپل حق مقرر دے بابا دغه اهمه مسئله د شعر په پسته ژبه بیانوي چې:

همسایه د خور لُور حق شته امتیاز اوکړه په دا
خپله غاړه دې کړه خلاصه مستحق حق بې بها
په قیامت به سرخرو وي په صورت سیرت زیبا [۱۶]

د انورشاه بابا د پندو نصیحت طریقه محض واعظانه او ناصحانه نۀ ده چې په اورېدونکي یا لوستونکي بده لګي ځکه چې په حقیقت کښې وېنا کول ډېره ګرانه وي خو چې د دې د پاره د انور شاه بابا په شان خوږه، پسته او اثرناکه ژبه پکار راوستے شي نو بیا په زړونو او غوږونو ښۀ لګي او بنده ئې بیا بیا اورېدو ته لېواله وي لکه چې بابا ظالمانو او زور ګیرو ته په خوږه ژبه وائي:

هائې توبه توبه فاني دنیا لوټلي
مرګے شته دے ناوکي غشي دې ولي
چې په رنګ تر زیړو ګُلو ښائسته وو
اوس د تورو خاوړو زنګ شُو هغه ښکلي [۱۷]

بل ځائې کښې وائي:

په څۀ خیال په ګلو ناست ئې عندلیبه
په بهار پسې خزان دے عنقریبه
چې ګُلونه بویوې عیش و نشاط کړې
په وصال باندې هجران شته دے غریبه [۱۸]

دروغ منافقت او ریا کاري د معاشرې د ټولو نه خطرناکه ناروغي ده او د اخلاقي بیمارو جرړه ده ځکه چې دغه قسمه خلق په سپینه ورځ په سپینه جامه کښې د شیطان په شان حرکتونه کوي او انسانان په خپلو کښې جنګوي- انور شاه دغه قِسمه ریاکارو ته خبر ورکوي چې:

سرخروئي د صالحانو په تقوىٰ ده
د ابرارو نېک عملو دُر مکنون شه
د ریا عمل قبول په جناب نۀ دے
له درګاه د کبریا پستنه ستون شه

عملونه دله نېته معلومېږي

بې ریا قېس د لېلى په مخ مجنون شه [۱۹]

په دنیا کښې هغه انسان ګڼه کوي کوم چې د نورو انسانانو خیال ساتي، کوم چې د چا زړۀ خوشحالوي. د بل غم خپل غم او د بل خوشحالي خپله خوشحالي ګڼي ځکه چې د چا زړۀ ازارول د خلیل کعبه ورانول دي بابا فرمائي:

هسې کوشش حق دے چې فائده رسي هر چا ته
زړونو په ساتل شي په جنت ماڼې ولاړه
مه ازاروه زړونه د چا نۀ وي ازار کړے
دا دولت حاصل کړه په فاني دنیا مه ویاړه [۲۰]

انور شاه بابا د خپلو تعلیماتو او وعظ ونصیحت مرکز انسان ټاکلے دے او خپله ټوله توجه ئې دغه انسان ته سپارلې ده، ځکه چې دغه انسان د دې معاشرې اوسیدونکے دے او دا معاشره به هله ترقي کوي چې ټول انسانان خپل خپل فرض اوپېژني- خپل ځان ترې هېر وي او د بل په درد دړد مند وي- بابا د یو ښۀ مرد اوصاف بیانوي:

مرد هغۀ دے په دنیا کښې
چې خصلت کا د سخا
په دنیا ئې مینه نۀ وي
نۀ لُقمه خوري د ربا
له حرامو ئې زړۀ خلاص وي
حلال دوست لري روا
کُل وعده ئې په اخلاص وي
ثابت اوسي په وفا [۲۱]

انو ر شاه بابا په خوږه ژبه اولس ته د اسلام ارکان بیانوي، د معرفت حاصلولو د پاره ورته د ذکر او فکر فائده په ګوته کوي، د دنیا د طالبانو حالات ورته په ډاګه کوي لکه چې فرمائي:

شریعت کار مستحکم پنج بنا دا دي
نمونځ روژه زکواة وحج دے و جهاد
دا خفي ذکر افضل ربنا د زړۀ دے
معرفت مونده د خدا ے دے په کښې یاد
طالبان د دنیا سپي واړه هِجره دي

سرنګون دي په دوه کوْن نامراد
د قارون کوټې له ګنجه سره لاړې
لاتر اوسه دا افسوس کاندي شيداد [۲۲]

بل ځائې کښې ورته داسې نصيحت کوي چې:

بيا به ډېر ارمان کوې په صورت لټه
بختور دي چې د دين ئې اوکړه ګټه
مخلصان به په صراط المستقيم ځي
سر تر پايه جاهلان غرق شُو په خټه [۲۳]

د دنيا په هر قام کښې چې څوک نوموړي او اوچت شاعران تېر شوي دي يا ژوندي دي د هغو واړو وړاندې يو مقصد وي او د هغه مقصد لاندې د خپل ځيګر او زړهٔ وينې د شعر په جامه کښې د دنيا وګړو ته پېش کوي، انور شاه هم د خپل لوړ بصيرت په رڼا کښې ښهٔ اخلاق د انسانيت د بره تګ د پاره ډېر اهم عنصر ګڼلے دے.

په دنيا کښې چې څومره بزرګان، اولياء، عالمان، اديبان، شاعران، حکيمان، فلسفيان او سائنسدانان تېر شوې دي هغوي د خپل ژوند دغه يو مقصد ګرځولے ؤ، چې انسان به څنګه ښهٔ انسان جوړ شي، معاشره به څنګه په سمه لاره روانه شي او هم دغه انسان ته چې د ژوند تېرولو د پاره څه مشکلات مخې ته راځي د دغې به څنګه حل پېدا کړي؟ ځکه چې ژوند په مخه روان دے، ورځ په ورځ نوي نوي ايجادونه کېږي چې د دغې سره د انسان ژوند نورهم ناقلاره کېږي- نن سبا ډېر مال دولت، قيمتي جامې او په قوم قبيله فخر کول فېشن جوړ شوے دے حالانکې کاميابي په سرکوزۍ يعنې عاجزۍ، فقيرۍ او ملنګۍ کښې ده په پرهېزګارۍ کښې ده، په نېک عمل کښې ده. نن دے که سبا دے مرګ د هر مخلوق مېلمه کېږي او بيا هلته نهٔ مال، نهٔ ځواني، نهٔ لباس پکارېږي بلکې نېک عمل، عاجزي، فقيري او پرهېزګاري پکار راځي. بابا فرمائي:

کبرجنو په نفيس لباس دے فخر
پرهېزګار لري لباس مخ و استر تور
د عمل چراغ له ځانه سره واخله
د لحد زمکه بالين لري بستر تور [۲۴]

بل ځائې وائي:

چې دنیا ورڅخه نۀ وي زوړے له پلاره شي جدا
که عزت دے په دنیا دے هر څوک تا بولي بابا[۲۵]

شاعر د قام او اولس سترګې وي، نه یواځې سترګې بلکې ذهن او ژبه وي- هغه د خپل چاپېرچل ترجمان، د خپل دور نمائنده او د ژوند نقاد او عکاس وي- سید رسول رسا د شاعر د امتیازي شخصیت په حقله لیکي:
"شاعر د کائنات د ژوند نباض او ترجمان دے. د هغۀ حقیقت بین او حسن بین زړۀ د طلسمي ژبې نه واقف وي او د ماحول د ژوند عجیبه نوشت ټکي ولاړولے شي. هغۀ د انسان د فطرت، نۀ یوازې تماشګیر او نندارچي دے بلکې د فطرت ترجمان او لسان هم دے. هغۀ د انسان د روح او وارداتِ قلب اندروني تماشه کولے شي او د روح د دنیا د جنتي وطن د سېروسیاحت د پاره یو روحاني او قلبي طاقت هم لري. هغۀ د انسان د غم او مسرت د جذباتو هوائي وجود په لاسو رانیولے شي او خلقو ته ئې ښئیلے شي."[۲۶]

مطلب دا چې شاعر د خپل ماحول نه اثر قبلوي او د خپلو داخلي کیفیاتو سره سره خارجي اثرات هم د شعر په جامه کښې پېش کوي او دا رنګ د خپل عهد د خلقو او د خپل قام فکري او شعوري لاربنودنه کوي- هم دا وجه ده چې د یو رښتینې او حقیقي شاعر په کلام کښې د هغۀ د زمانې د حسن تصور، قلارۍ او ناقلارۍ، د ستائنې او غندنې وړ رسمونه او رواجونه د هغۀ د خپلو نظریاتو په رڼا کښې موجود وي او دا هر څه مونږ د انور شاه په کلام کښې وینو- څکه خو ځان ته ګویا کېږي چې:
میر انوره بندګي کړه
مفت مونده نۀ شي منصب [۲۷]
په بل شعر کښې وائي:
نصیحت چې نور عالم ته په زبان کړې
اول ځان ته نصیحت اوکړه خطیبه [۲۸]
الله تعالٰی انسان د څه خاص مقصد د پاره پېدا کړے دے او چې په اصلي معنو کښې انسان وي نو هغه په دنیاوي، مادي ذاتي مفادو، او ادنٰی څیزونو او کارونو پسې لېواله نه

وي۔ د هغه سوچ فکر او عمل په هغه مقصد او مشن پورې اړه لري کوم چې هغه د انسانیت د بقاء ترقۍ او کامیابۍ د پاره غوره کړے وي او هغه بیا خپل هر قدم په احتیاط او مناسب وخت پورته کوي- دغه وجه ده چې دغه نابغه شخصیت په خپل ادب کښې د انسانیت د علم بردارۍ او رهنمائۍ حق او ذمه واري ښهٔ پوره سرته رسولې ده او د خپل ذات ئې څه پروا نۀ ده لرلې. دا هغه هنر دے چې بنده تل ترتله ژوندے ساتي. انور شاه بابا اولس ته مخاطب کېږي چې:

اول حمـــــــد د خـــــــدا ے ثنـــــا
دوېــــــم نعـــــــت د مصــــــطفٰی

تـــــــلاوت د قـــــــرآن حـــــــق دے
دے قـــــــرآن د دیــــــن پېشــــــوا

پــــــه اصــــــول د دیــــــن خبـــــر شـــــه
اصـــــــل دا دي پــــــــنج بنــــــا

نمــــــونځ روژه حـــــــج و زكــــــواة دي
پـــــه غــــــازي حـــــق د غـــــذا[۲۹]

غرض دا چې د انورشاه بابا تعلیمات د معاشرې اصلاح کوي- په انسانانو کښې د صبر، یقین، توکل، فقرو قناعت، امن پسندۍ، ورورولۍ او عزیزولۍ ماده او جذبه راپاروي، چې نور انسانان دې هم په الله تعالٰی باور ولري او خپل ژوند دې د صوفیانو د ژوند په شان جوړ کړي-

له دې بحث څخه دا نتیجه په اسانه اخستلے شُو چې:

۱۔ انور شاه د الله پاک په لوے او ښکلي شاهکار یعنې انسان مئین دے. د دنیا او اخرت سر لوړي ئې غواړي، روحاني سکون ئې غواړي او د خالق حقیقي سره تړون ئې غواړي۔

۲۔ په انسان غږ کوي چې لويي په نسل کښې نۀ بلکې په غوره کار او کردار کښې ده، په فکر او عمل کښې ده۔

۳۔ رنګ او نسب يو تر بله د برترۍ نه بلکې د پېژندګلو علامت دے۔ سم او رسا کار پکار دے۔ همت او حوصله ښۀ ده۔ په هره سخته او راحته شُکر او صبر ښۀ دے۔

۴۔ فقر ښۀ دے او قناعت ښۀ دے۔ په لوے الله باور ښۀ دے۔ ټوله پاملرنه د خدا ے په رضا پکار ده ، د اخرت په سنجولو پکار ده۔ تکبر د شیطان کار دے، بايد انسان په کښې يو تربله مينه وکړي، د

د اخرت د دائمي ژوند توښه جوړه کړي۔ له هره بده کاره ډډه وکړي او هر نېک او سم کار ته لاس واچوي۔

# حواله جات

[1]Professor Muhammad Afzal ,Pat story (talif),Jadoon press Peshawar,1984,P 443
[2] Professor,Dr. Islam Gauhar,edrakaat,Noorullah katozaye printers, Peshawar,August 2013,P13
[3] Hazrat syed mir anwar Shah, Sahiifa Anwarya,Adan printers,Lahore,3rd Edition,2018,P53
[4] Hazrat syed mir anwar Shah, Sahiifa Anwarya, P86
[5] Do,P104
[6] Do,P92
[7] Do,204
[8] Do,492
[9] Alama, Muhammad Ajmal Khan,Tasawoof ka encyclopedia (talif),progressive books,Urdu bazar Lahore,March 2017,P37
[10] Hazrat syed mir anwar Shah, Sahiifa Anwarya,P 72
[11] Do P 264
[12] Do,P 74
[13] Do P340
[14] Do P 262
[15] Do,P76
[16] Do,74
[17] Do,P264
[18] Do,P 268
[19] Do,288
[20] Do,P246
[21] Do,P74
[22] Do,P332
[23] Do,P330
[24] Do,P274
[25] Do,P74
[26] Said Rasool Rasa,Adabi TAnqeed,Manzoor Alam Press,Peshawar,SN,P51
[27] Hazrat syed mir anwar Shah, Sahiifa Anwarya,p 94
[28] Do,P270
[29] Do,P70